# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۱۳۹۳ -۵۸

موضوع: د غزني د ولایتي شورا د غړي او مشرانو جرګې غړیتوب ته د نوماند ښاغلي محمد رحیم حسنیار د اسنادو څېړنه؛

مرجع: د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

د غونډې نېټه او ځای: د ۱۳۹۳ کال د مرغومي۳مه ( د ۲۰۱۴ کال د ډسامبر۲۴ مه)د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

حاضر غړي: ښاغلیډاکتر احمد یوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي،آغلېګلالی اڅکزۍ، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضی سلیمان حامد، آغلې لیلا احراری و آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو قانون د ۳۱ مادې د دریېمې فقرې او ۶۰ مادې د مندرجو حکمونو پر بنسټ پرېکړه وکړه چې:
د نفوسو احوالو د ثبت اداره د کمیسیون د استعلام په ځواب کې د غزني د ولایتي شورا د غړي او مشرانو جرګې ته نوماند ښاغلي محمد رحیم حسن یار سن ۳۸ کاله تثبیت کړی دی. نو له دې کبله نوموړی د مشرانو جرګې د غړیتوب وړ دی او وثیقه دې ور ته صادره او تفویض شي.
همدارنګه ښاغلی محمد نعیم توحیدي د محمد علي زوی چې د کمیسیون د چمتو شوي لیست په پربنسټ يې د عین جنس نه تر ټولو ډېرې رأیې ترلاسه کړې دي، د هغه د ځایناستي غړي په توګه دې ور وپېژندل شي او ولایتي دفتر دې ور ته وثیقه صادره او تفویض کړي.

| له پرېکړې سره موافق | د غړیو نومونه | له پرېکړې سره مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلیډاکتر احمد یوسف | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلېګلالی اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |